# مطبوعاتي خبرپاڼه

## جاپان په افغانستان کې بيړنيو اړتياو ته ځواب وايي

د ۲۰۱۱ کال د فبرورۍ ۲۸

**کابل، افغانستان** – د جاپان حکومت په افغانستان کې د ژوندانه او معيشت د ساتنې لپاره په دې اونۍ کې له يونوپس سره ۱۹ ميليونه ډالره مرسته وکړه.

له يوې لسيزې پراختيايي مرستې سره سره، ټولنې اوس هم له لوږې، د طبيعي پيښو په وړاندې د چمتووالي نشتون او ټولنيزو لومړنيو خدماتو ته له محدودې لاسرسۍ څخه کړيږي.

يونوپس له جاپان سره يو تړون لاسليک کړی څو درې اته مياشتنۍ پروژې چې د دې ننګونو د حل لپاره جوړې شوي، پلي کړي:

۱. د آرتل د نوي پله جوړول او د اوسني تاريخي پله او په کابل کې د سړکونو بيارغونه
۲. په سالنګ کوتل کې د واورو پاکول او له برفکوچ څخه مخنيوی او په سمنګان او سرپل کې د واورو له پاکولو څخه ملاتړ
۳. په غور ولايت کې د پيښو په وړاندې د چمتووالي زياتوالی او بيړنی غبرګون

لومړنۍ پروژه به د آرتل جديد پل ډيزاين او ودان او پله ته ورغلي سړکونه ترميم کړي، چې دغه کار په کابل ښار کې له ډاډمنې، ګټورې او پراخې ترانسپورتي شبکې سره مرسته کوي.

دويمه پروژه به د ترافيک د اغيزمن مديريت او په ژمي کې د واورو د پاکولو وسايلو د ساتنې پر ښې لاسرسۍ تمرکز وکړي او نوې آسانتياوې به جوړې يا شته آسانتياوې به ترميم کړي څو د واورو په پاکولو او د برفکوچونو د مخنيوی په برخه کې د هغوی ظرفيت لوړ شي.

دريمه پروژه به د پيښو په وړاندې د چمتووالي پر بهبود او له پيښو څخه وروسته غبرګون باندې په غور ولايت کې تمرکز وکړي. په دې ولايت کې خلک له پرله پسې سيلابونو، وچکاليو او د واورو له مصيبت سره مخامخ دي.

پيټر کروغ سورنسِن د يونوپس مشر او استازي وويل: «امنيتي وضعيت ورځ تر بلې خرابيږي، خو موږ به د افغانستان حکومت له بشري او پراختيايي هڅو څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکړو. زه متقاعد شوی يم چې موږ کولای شو د افغانانو په ژوندانه کې بدلون راولو، له دې کبله موږ د جاپان له سخاوتمندانه مرستې څخه مننه کوو.»

يونوپس به له نږدې څخه د کابل ښاروالۍ، د فوايد عامه وزارت او د پيښو د مديريت ملي اداري او په همدې ډول د ملګرو ملتونو له اړوندو موسسو سره د دې پروژو د بريالي پلي کيدو په برخه کې کار وکړي.

لطفاً له معلوماتو لپاره زياتو کوړد اکومورا ايميل: ۰۰۹۳۷۹۷۵۷۸۸۵۵، ټليفون: يونوپس اګوک، ، *riekoo@unops.org* يا وبسايټ: *www.unops.org/agoc*.سره اړيکه ونيسئ